Preview (1 / 10) - ketabton.com

## د کتاب پېژندنه

---

د کتاب نوم: ریشکې والا ناول

لیکوال: محمدنواب ودان (احمدزی)

د لیکلو کال: ۱۴۰۴

---

د لیکوال خبرې:

لومړی خو ټولو ته نبي کریم ﷺ ښکلې ډالۍ وړاندې کوم چې السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

امابعد؛

دا کتاب د هیواد ټولو ریښتیني مئینانو ته ډالۍ کوم، تر څنګ یې هم له هغو کسانو چې کېدای دا کتاب ډانلوډ کړي، هیله کوم چې دا کتاب بل چاته مه لېږئ او که یې لېږئ هم نو لږ تر لږه په عام ډول یې مه خپروئ.

والسلام

محمدنواب ودان ((احمدزی))

Preview (2 / 10) - ketabton.com

ببېږه یې وه نو ور یې په زور واهه، چې ژر وهاب وګوري، خو خبر نه وؤ چې د وهاب مشـــر ورور به ور پرانېزي، خو له بده بخته یې همداسې وشول او د وهاب ورور ورته وویل:

څه خبره ده ځوانه! قرضداره خو به دې نه یو چې داسې په غرز ور وهې! سړی لږ صبر وکړي، څه د ورته تر شا خو نه یو ناست چې ته ور ودېبوې او زه یې پرانیزم. ښه وایه څه کار دې وؤ.

فرمان الله احمدي لږ څه نه، بلکې ډېر وشرمېده او په بنده ژبه یې وویل:

وهاب سه سره مې کار وؤ.

بیا چې کله فرمان الله او وهاب په خیاطي کې ســره ولیدل، نو ګیله یې وکړه چې ورور دې داســې چلند راسره وکړ.

تر هغه وروســـته بیا فرمان الله هېڅ کله د وهاب دوئ وره ته ونه درېده، فرمان الله پوهنتون پیل کړ، هلته یې د وهاب ورور سره ملګرتیا هم جوړه شوه، خو بیا هم د وهاب دوئ وره ته ونه درېده.

فرمان الله پوهنتون تر نیمایي تېر کړی وؤ چې مشـــر ورور یې جرمني ته لاړه او بیا فرمان الله هم په دې پوهنتون پرېښوده چې حکومت سقوط شو او یو څه اقتصادي حالت خراب شو آن خیاطي یې هم خوشـې کړه او پرځای یې یوه ژېړه هندي ریشـکه واخیســته او په هغې یې غریبي پیل کړه، ریشـکه داسې شی ده چې سړی لوفر جوړوي.

خو فرمان الله بیا ډېره لوفري نه کوله، یوه ورځ یې ریشـــکه درولې وه چې له یوه هوټل نه یې یو کس ریشـکې ته ورخېژاوه یو ماشـوم هم ورسـره وؤ او بیا هغو خلکو چې سـړی یې ورپورته کړی وؤ، ورته وویل:

دی به تر پُل شینې پورې ورسوې.

ځوان چې حرکت وکړ، نو په آئینه کې یې شاته وکتل، لږ شکمن شو، خو له ځان سره یې وویل څه ډاکټر خو نه یې چې کار پرې لرې، تر یو څه مزل وروسته یې یوځل بیا شاته وکتل، خو داځل ډاډمن شـو چې د سـړي طبیعت خراب ده، نو ریشـکه یې ورته ودروله او شـا سـیټ ته راغی چې سـړی یې

Preview (3 / 10) - ketabton.com

وکوت، نو فول نشه وؤ، ځکه خو ببخي حیران پاتې شو، څه وکړي، سترګې یې پټې کړې او بیا یې دا پرېکړه وکړه چې باید لږ رومیان او مستې را واخلي چې نشه یې والوځي، خو چې شا او خوا یې وکتله، نو داسې کومه هټۍ نه ښکارېده، چې دا شیان دې پکې وي، نو ریشکې ته پورته شو او مخې ولاړه، یوه ځې کې یې ولیدل چې یو دوکان دی، نو لاړه هغه دوکان نه یې رومیان لیمو او مستې راواخیستې او له سړی سره تر څنګ ماشوم ته یې ورکړې چې سړي ته یې ورکړي، بیا یې له ماشوم نه وپوښتل:

کور مو چېرته ده؟

ماشوم وویل:

امنیت ښارګوټي کې.

فرمان الله په ټول امنیت ښارګوټي وګرځېده، خو ماشوم خپل کور پیدا نه کړ، ځکه خو فرمان الله مخ را وګرځاوه او په غوصه یې وویل:

امنیت ښارګوټی خو همدا وؤ، نو چېرې ده ستاسو کور؟

ماشوم وېرېدلې څېره نیولې وه او هېڅ یې نه ویل، له بل لوري نه په ریشکه کې هم تېل کم پاتې وؤ، نو فرمان الله یوه غټه چوندۍ نصوار تر شونډې لاندې کړل او حرکت یې وکړ.

لومړی یوه ښکلي ټانک تېل ته ورتاو شو، تېل یې وروااچول او بیا یې نو په ډېرې غوصې سره یې حوزې ته حرکت وکړ، لومړی خو یې حوزې ته اجازه نه ورکوله او تر یو څه ځنډ وروستــه چې یې پولیسو ستونزه واورېده، بیا یې صبر وکړ چې سړی لږ له نشې راووت نو بیا یې د کور پوښتنه ترې وکړه، خو سړی لا دومره په هوښ نه وؤ چې پته ورکړی شي، همدا وؤ چې سرتېرو یوازې دومره وکړل چې په ســړي باندې یې مبائل خلاص کړو او بیا یې له زوی نه د کورنۍ غړو پوښتــنه وکړه او چې څنګه یې د ســړي د ورور شمېره پیدا کړه، نو زنګ یې ور وواهه او بیا تر څه ځنډ وروستــه یې ورور حوزې ته راورسېده، بیا دا هم څرګنده شوه چې ورور یې ترې بېل ده او آن کور یې نه ده ورته معلوم، بلکې یوازې دومره ورته معلومه ده چې د حاجي منجي په ښارګوټي کې اوسېږي.

Preview (4 / 10) - ketabton.com

نو د سړي ورور او يو سرتېرى هم ريشكې ته راوخوتل او بيا فرمان الله د حاجي منځي ښارګوټي پر لور حرکت وکړ او په پای کې يې د ماشوم په مرسته د سړي کور پيدا کړ.

فرمان الله چې کور ته راورسېده، نو د شپې يوه نيمه بجه وه او له بل لوري ډېر ستړی وؤ، نو دا يې هم له وسه نه وؤ چې لمونځ وکړي بلکې همداسې ويده شو.

يو وخت يې د مبائل غږ اورېده، خو چې د سترګو لوځولو هڅه يې وکړه، ناکامه شو، غوښتل يې چې مبائل ځواب کړي، خو بې له دې چې اوکې يې کړي، غوږ ته يې ونيوه او په دې کې بېرته خوب پرې غالب شو، په خوب کې يې ليدل چې د تېرې شپې نشه سړي زنګ ورته راوهلی او بخښنه ترې غواړي.

په دې کې يې بيا مبائل ټالی ووهلې، بې له دې چې وګوري چا زنګ راوهلی، اوکې يې کړ او ځواب يې ورکړ:

سلام څوک يې چې په دې توره شپه دې زنګ راوهلی؟

له هغه لوري غږ راغی:

سلام ريشکي والا! څنګه يې ولې دې ناوخته کړ، راځې او که بله ريشکه کې لاړه شم؟

فرمان الله په ټول زور سره سترګې پرانيستې او ساعت ته يې وکتل، ګوري چې نيږدي اته بجې دي، نو په بېړه يې وويل:

نه لږ صبر وکړه، درځم.

بيا يې په بېړه ځان چمتو کړ او ريشکه يې روښانه او په بېړه د سيارې خواته ورغی، هغه ورته ولاړه وه، نو فرمان نجلۍ ريشکې ته پورته کړه او بيا يې ډېر په زړه نا زړه حالت کې وويل:

بخښنه غواړم، ويده وم، ځکه مې ونه شو کولای په وخت را ورسېږم!

سيارې لومړی هغه ته وکتل او بيا يې له خپل دستکول نه يو ډېر ښه بيسکوټ راووېسته او په ټوکه يې وويل:

Preview (5 / 10) - ketabton.com

په تا خو هسې هم شپه ده، ته دا بيسکېټ واخله، ځکه نن به تا هم زما په شان سباناری نه وي کړی.

فرمان الله ورته وکتل او بيا يې په بنده بنده ژبه وويل:

که داسې بيسکېټونه راکوې نو بيا به داسې آموخته شم چې هره ورځ به په کور سباناری نه کوم، بلکې تاته به په تمه يم، خو معلومه نه ده چې بيا به ته وې او که به نه.

سيارې په موسکا وويل:

نه تشويش مه کوه، زه به يوازې له تاسره ځم.

فرمان الله سياره هغه روغتون ته ورسوله چې پکې نرسه وه، خو کله چې سياره له ريشکې نه کښته شوله، تر لږ تګ وروسته يې څه په زړه وګرځېدل، بيا ځای په ځای ودرېده، په خپل ټيکري او ماسک باندې يې ګوتې ووهلې او بيا مخکې تر دې چې فرمان الله حرکت وکړي غږ يې کړل:

هې ريشکې والا! ما زديګر راپسې راشه، بيا ويده نه شې.

نور په تمه نه شوه چې فرمان الله څه وايي، دننه روغتون ته لاړه، بل لوري ته فرمان الله باندې د سيارې دا خبره ښه ونه لګېده او په غوصه يې ريشکې باندې غوږ تاو کړ، بيا يې له ځان سره وويل: ياره دا حمَله هم بايد چې بله مياشت خوشې کړم.

يوه ځې کې نږدې وؤ چې له يوه موټر سره ريشکه ووهي، خو په ډېرې سختۍ يې ځان بچ کړو، له دې سره موټر والا خپل ګنجی سر له موټر نه د باندې راووېست او په غوصه يې وويل:

تاسو ريشکو والا خو ښځي د سړي زامن نه ياست.

فرمان الله هم په غوصه وؤ، نو همداسې په غوصه يې وويل:

ته خو د سړی زوی يې، ته يې سم چلوه.

Preview (6 / 10) - ketabton.com

په دې کې له شا نه پسې هارن پيل شو، نو حرکت يې وکړ او په هډه کې نوبت ته ودرېده، خو بيا خوب ورتللو، نو ريشکه يې په بېړه روښانه کړه او ځان يې کورته ورسولو او بيا يې واړول، څه موده وروسته يې مور راويښ کړ او بيا يې ډوډۍ ورته راوړه، ډوډۍ يې وخوړه، بيا پاڅېده چې اودس او لمونځ وکړي، د اوداسه پر مهال يې کوچنۍ خور ورته راغله او په خندا يې وويل:

لالا! ماته خايسته بيسکټ راولي وۀ.

فرمان الله هېڅ ورته ونه ويل او همداسې ترې لاړ په لمانځه ودرېده، خو په لمانځه کې يې بيا ټول سوچ او فکر سيارې ته ولاړه او چې يې هرڅه هڅه وکړه چې سياره له سوچ نه وباسي، خو ونه توانېده، نو ځکه خو يې څو واره لمونځ هم غلط کړ او چې کله يې لمونځ خلاص کړ، نو له ځان سره يې وويل:

حيران دې ته يم چې دا نجلۍ مې په سوچ او فکر کې ګرځي، زما خو نه خوښېږي، نو بيا ولې دومره راسره شوې ده.

نو له ځان سره يې په خندا وويل:

خپل کار به کوي، زه به خپله سندره واورم.

له دې سره يې خپله بې سيم ګوشکه په غوږ کړه او بيا يې يوه هندي سندره روښانه کړه چې وايي:

تو کيچ مېرې فوټو.

*****

چې راپاڅېده، ګوري چې د لمانځه وخت ده، نو په منډه يې ځان لمانځه ته چمتو کړ، خو بيا هم خوب پرې راته، لمونځ يې په وارخطايي وکړ او بيا يې دعاء کوله چې خوب پرې راغی، همداسې په مصُلیٰ (جاينماز) باندې ويده شوی وۀ، يو وخت يې له يوه لوري نری نری يخ کېده او له بل لوري يې سترګې د لمر وړانګو ځورولې چې په دې کې يې د مور خوږ غږ په ډېر بد وخت کې واورېده:

فرمانه زويه! وفرمانه زويه! پاڅېږه ناوخته شوه.

Preview (7 / 10) - ketabton.com

فرمان الله په ډېر کړاو سره د ېواله باندې ځوړندې ګړۍ (ساعت) ته وکتل او بیا یې مور ته وویل:

سمه ده مور اوس پاڅېږم!

بیا یې له ځان سره وویل:

باید پاڅېږم، کنه اوس به بیا شیشکه زنګ راووهي او بیا به مسخرې راباندې کوي، نو ښه به دا وي چې پاڅېږم.

پاځیده، تر مخ مینځلو وروســـته یې په بېړه چای وڅکه بیا یې په بېړه ریشـــکه راووېســـته او د سیارې پر لوري یې حرکت وکړ.

په لاره کې د ریشکې ټایر پنچر شو، غوښتل چې ټایر بدل کړي، خو ویې لیدل چې د اشتپنۍ ټایر نه شته، ځکه بل چاته یې ورکړی ده، نو زنګ یې ورووهه او په بېړه یې وویل:

سلام! حشمت لالا! سړک باندې راته ټایر پنجر شوی او شتپني له تا سره ده.

حشمت ورته وویل:

چېرې یې چې درشم؟

فرمان الله په بېړه وویل:

خپله کوڅه کې یم.

لس دقیقې وروسته حشمت راورسېده او له رسېدو سره یې په ټوکه فرمان الله ته وویل:

ما درته ویلي چې مه یې وهه، برکت له منځه وړي او بلاګانې درباندې راځي، خو ته یې کله منې.

فرمان الله وویل:

چې ځوک موټکي ته شتپني ورکړي، نو ټېر به یې خامخا پنچرېږي، اوس ژر ټیر راکړه چې کار لرم.

Preview (8 / 10) - ketabton.com

ټایر یې بدل کړ او بیا یې بې له دې چې له حشـــمت ســـره خدای په اماني وکړه د ســـیارې خواته ورغی.

ســیاره بیا هلته له یوه لوري په تشــویش وه، له بل لوري په غوصــه، ځکه حیرانه وه چې فرمان الله نن بیا ولې ناوخته کړه او بیا ټیلیفون ولې نه پورته کوي، نور یې زړه وؤ چې یوازې ولاړه شي، خو په دې کې یې فرمان الله مخ ته ودرېده، چې یې فرمان الله ته وکتل، ویې لیدل چې د فرمان الله مخ تور شــوی وؤ، نو یې غوصــه او تشــویش له منځ ولاړه بیا ډېره قوي خندا ورغله او همداســې په زوروره خندا کې یې وویل:

اوه! اوه! لکه چې سلانسر ته ننوتی وې، ښخي دې ځان لړلی ده.

فرمان الله په آئیینه کې ځان ته وکتل او چې ویې لیدل مخ یې په مبلائلو تور شوی ده، نو له شرمه موسکا ورغله او په موسکا یې وویل:

هو لږ په وارخطایي راغلم، په لاره کې ټیر راته پنچر شو، نو فکر مې نه شو.

سیارې په خندا وویل:

ما ویل خی لکه چې د نجونو نه دې الهام اخیستی ده او سپین میک اپو پر ځای دې تور کارولي.

فرمان الله وویل:

ښه اوس راباندې مسخرې هم کوې؟

سیارې په موسکا وویل:

وبخښــې! ټوکې مې کولې، ښــه دا خبرې پرېږده، اوس دا بیســکټ واخله چې بیا به وایې آموخته دې کړم او اوس یې نه راته راوړې.

فرمان الله بیسکېټ واخیستل او نور یې څه ونه ویل، خو په زړه یې دا ټپه وګرځېدله:

او په ولاکه رانه خلاص شې

Preview (9 / 10) - ketabton.com

مانه دې ټول عمر کولچې خوړلې دینه

سیارې په موسکا وویل:

څه دې وویل پوهه نه شوم؟

فرمان الله ته غوصه ورغله او همداسې په غوصه یې وویل:

ما په زړه کې وویل، هغه دې هم واورېدل.

سیارې ته په دې خبره خندا ورغله او ویې ویل:

ههه! هو موړ خو همدا یوه، خو څه دې وویل؟

فرمان الله لږ په ځای کې وښورېده او بیا یې ټپه لږ بدله کړه او ټیټ غږ یې وویل:

او په ولاکه رانه خلاص شې

ما نه دې ټول عمر بسکیټ خوړلې دینه

له دې سره سیارې زوروره خندا وکړه، چې له امله یې فرمان الله په غوصه شو او همداسې په غوصه یې وویل:

څه کوې ډمې، لږ په کرار خانده، ته خو سم شرمول کوې.

تر څو سیاره څه ووایي، فرمان الله د روغتون مخکې ریشکه ودروله، سیارې هم په کښته کېدو کې په ناز وویل:

هې ریشکې والا! غوصه کېږه مه، غوصه ښه درسره نه ښکاري.

فرمان الله هم موسکی شو او بې له دې چې څه ووایي حرکت یې وکړ، نن یې حالت بېخي جوړ وؤ ځکه نن یې له سیارې سره خوږې خبرې شوې وې، لږ کار یې وکړ او بیا لاړه له ملګرو سره یې بنډار پیل کړ، یوه ملګري یې ورته وویل:

Preview (10 / 10) - ketabton.com

فرمان لالانن دې طبیعت ډېر جوړ ده، څنګه چل ده لکه چې له حملې سره دې تار ځغلولی ده.

فرمان الله باندې دا خبره هېڅ ښــه ونه لګېده، خو د بندار ســاتلو لپاره یې ځان کابو کړ او په موسکا یې وویل:

لالا موږ داسې خلک نه یو چې زړه مو مردار وي.

هلک په ټوکه وویل:

هو! شوکت هم همداسې ویل، خو بیا یې نجلۍ وتښتوله، اوس به یې تر ښځه جای کړې وي.

فرمان الله باندې دا خبره ښــه ونه لګېده نو بې له دې چې ځواب یې ورکړي پاڅېده او په خپل کار پسې لاړه.

تر مازدیګره یې کار وکړ، یوازې یې د لمانځه لپاره دمه کړې وه، نور یې ټوله ورځ کار کړی وؤ او بیا بېرته د سـیارې خواته لاړه، په لاره کې یې جېب ته لاس کړ، پان یې راووېسـت، یو دانه یې خولې ته واچاوه او بیا یې پام نه وؤ چې د پانو پاکټ یې د ریښــکې په اشـــترنګ کې کېښـــود او کله چې سیاره ریشکې ته پورته شوه، نو سترګې یې د پان په پاکټ باندې ولګېدې، خو بیا کېناسته، تر لږ چوپتیا وروسته یې وویل:

ریشکې والا ساعت دې سخت تېر ده، که څنګه؟

فرمان الله وارخطا شو، خو مخکې تر دې چې څه ووایي سیارې په ټوکه وویل:

له هغو ژاولو خو یوه دانه ماته هم راکړه.

د سـیارې له دې خبرې سـره فرمان الله په اصـلي خبره پوه شـولو او بیا یې لومړی د پانو ژېړ پاکټ جېب ته واچاوه بیا یې د خبرې بدلولو په پار وویل:

سهار دې چې بیسکېټ راکړ، ډېر خوندور وؤ، ما ډېر ولټاوه پیدا مې نه کړ، ته یې ځای راوښیه چې کله کله یې اخلم.

*PREVIEW*

# You've reached the end of the preview.

Purchase the full book to continue reading.

**Buy this book - ketabton.com**

https://ketabton.com/books/qm1F5HTQ5Dv

Preview on ketabton.com. Rights remain with the author or publisher.